مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڑ ۲۰۲۶/۱۰/۲۹

لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(نه دېرشمه برخه)



لاندې لېنک کې د عامو خلکو بمبار شوي کورونه وګورئ:

https://www.facebook.com/watch/?v=993676229263117

پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګاني(۳۵)
له ځلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ ستردرستیزان (۸)
جنرال سید عاصم منیر احمد شاه، (له ۲۰۲۲ز. کاله، تر دې دمه) (۳)

د افغان او پاکستاني پوځ تر منځ نااندولە جګړې

د ټي‌ټي‌پي د بریدونو د زیاتوالي له امله پاکستانیو چارواکو د افغانستان پر خلاف دېرې سختې پاروونکې ویناوې وکړې. د پاکستانیانو د دا ډول ویناوو سره سم د ټي‌ټي‌پي وسلەوالو په شمالي وزیرستان (میرعلي سیمې ته نږدې) د پاکستاني پوځ پر یوه پوسته باندې برید وکړ. وسلەوالو لومړی د باروتو ډک موټر له پوستې سره ټکر کړ او بیا یې ډلەییز وسلەوال برید پیل کړ. په دغه خونړي برید کې د ۲ جګپوړو افسرانو (ډګروال او تورن) په ګډون ۷ تنه پاکستاني عسکر ووژل شول او څو تنه نور ټپیان شول.

د دغه برید مسؤلیت، د ټي‌ټي‌پي اړوند د (حافظ ګل بهادر ډلې) پر غاړه واخیست.[1]

[1] :https://www.dawn.com/news/1821887

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پاکستانیو ځواکونو د دغه برید په غبرګون کې، په شمالي وزیرستان او ډیورنډ کرښې ته نږدې، د وسلهوالو پر مرکزونو پراخ هوایي او ځمکني عملیات پیل کړل. پاکستاني پوځ په وزیرستان کې پر خپلو عملیاتو بسنه ونه کړه، هغوی، د ۲۰۲۴ز. کال د مارچ پر ۱۸مه نېټه، د خوست د سپېرې ولسوالۍ (افغان دوبۍ) سیمه او د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې هوایي بمبارۍ هم وکړې چې ۸ تنه ملکي وګړي په کې ووژل شول چې ۵ تنه ښځې او ۳ تنه ماشومان وو.
پاکستانیو چارواکو وویل چې دا عملیات یې د ټي‌ټي‌پي پر مرکزونو کړي دي. د پاکستان حکومت او رسنیو اعلان وکړ چې دا د استخباراتي مالوماتو پر بنسټ، د ترهګرۍ ضد عملیات وو چې موخه یې په افغانستان کې د حافظ ګل بهادر ډلې او ټي‌ټي‌پي پناهځایونه وو.
افغان حکومت د پاکستان بمبار پر خپله خاور ځرګند تېرى وبالله، دفاع وزیر وویل چې افغان ځواکونو د غچ اخیستنې عملیات ترسره کړل او د کرښې هغې غاړې ته یې پر پاکستاني پوځي اهدافو د درنو وسلو ډزې وکړې.
د ۲۰۲۴ز. کال په وروستیو کې د ډیورند کرښې ها خوا، د ټي‌ټي‌پي وسلهوالو ځواکونو په وزیرستان کې پر یو پوځي کاروان او یوه امنیتي پوسته باندې سخت بریدونه وکړل، په دغو بریدونو کې ۱۶ تنه پاکستاني پوځیان ووژل شول او ۸ تنه نور ټپیان شول.
د دغو بریدونو په غبرګون کې پاکستان، د ۲۰۲۴ز. کال د دسمبر په ۲۴مه نېټه، پاکستانیو الوتکو د پکتیکا د برمل ولسوالۍ په ځلورو ځایونو **(مارغه بازار، لمان، شین سترګی اډه او سورزغمي)** کې بمبار وکړ. د پاکستان چارواکو په رسمي توګه ځه ونه ویل خو استخباراتي سرچینو وویل چې برید د ټي‌ټي‌پي د روزنې پر ځو مرکزونو شوی دی.
افغان حکومت د دسمبر په ۲۵مه نېټه، د ۴۶ تنو د وژلو او ۶ تنو ټپیان خبر ورکړ چې ډېرى قربانیان یې ښځې او ماشومان و. چې ډېر یې د وزیرستان کډوال او د ځدرانو قوم سیمهییز ملکي وګړي وو چې د ځایي اوسیدونکو څو کورونه په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو خو وروسته د وژل شویو کسانو شمېره ۵۶ کسانو ته لوړه شوه.
ملګرو ملتونو (UNAMA) او یونیسف (UNICEF) د دغه برید په غبرګون کې د ملکي وګړو، په ځانګړې توګه د ماشومانو پر مرګ‌ژوبلې سخته اندېښنه ښکاره کړه او د څېړنو غوښتنه یې وکړه.
د افغانستان د دفاع وزارت دا برید په کلکه وغانده او هغه یې د هېواد پر حریم ځرګند تېرى وبالله او د غچ اخیستلو ژمنه یې وکړه. هغه وو چې په ځواب کې افغان ځواکونو، د ډسمبر پر ۲۸مه نېټه، د ډیورنډ کرښې ها خوا د پاکستاني پوځ پوستې او مرکزونه په راکټونو او درنو توپونو وډزول.
په ۲۰۲۴ز. کال کې د ټي‌ټي‌پي وسلهوال ډېر ځواکمن شول، تر دې چې د وسلهوالو بریدونو ترڅنګ یې د خیبر پښتونخوا په سویلي ولسوالیو (ضلعو) کې پر لویو لارو کې د پلټنو امنیتي پوستې هم جوړې کړې چې له سوداګریزو لاریو یې باج هم اخیست. دا کال د پاکستانیو جنرالانو لپاره ډېر خونړى کال ؤ، د پاکستان د شخړو او امنیتي مطالعاتو د انستیتوت (PICSS) پر بنسټ، ۲۰۲۴ز. کال، په تېره یوه لسیزه کې د پاکستان د پوځ لپاره تر ټولو خونړى کال ؤ.[2]
په دې کال کې په پاکستان کې سلګونه وسلهوال بریدونه وشول چې له امله یې د پاکستان ۶۸۵ امنیتي ځواکونه او ۹۲۷ ملکي وګړي ووژل شول. تر ټولو زیات بریدونه په خیبر پښتونخوا او بلوچستان کې ترسره شوي وو.[3]

[2] :https://picss.net/pakistan-witnesses-40-surge-in-militant-attacks-in-2024/
[3] :https://www.dw.com/en/pakistan-sees-surge-in-deadly-attacks-in-2024/a-71192063

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په پاکستان کې امنیتي وضعیت ورځ په ورځ مخ په خرابیدو ؤ، په ۲۰۲۵ز. کال کې په پښتونخوا کې د پښتنو او په بلوچستان کې د بلوڅ آزادي‌غوښتونکو بریدونه لاپسې زیات شول، **په دې کال کې د ټي‌ټي‌پي له‌خوا سلګونه سرتېري (ځانمرګي) بریدونه، سړک غاړې بمونه او د کمینونو سرېره، د بې‌پېلوټه الوتکو بریدونه هم ترسره شول.**

ټي‌ټي‌پي په ۲۰۲۵ز. کال کې د خپلو بې‌پېلوټه ځلور ځرخیزو الوتکو (کواډکوپټر) بریدونو د تنظیم لپاره یو ځانګړی تخنیکي ځواک اعلان کړ، دوی د چینایی سوداګریزو ډرونونه (DJI Matrice) په مایننو او د GP-25 لاسي بمونو سمبالول او د شپې له‌خوا یې د کمرې په مرسته کارولې.[4]

په دې کال کې د ټي‌ټي‌پي وسله‌والو له‌خوا د پاکستان په بېلابېلو سیمو، په ځانګړې توګه، خیبر پښتونخوا کې، د (کواډکوپټرانو) ګڼ بریدونه ترسره کړي دي، د پاکستاني پولیسو او امنیتي سرچینو د راپورونو له مخې، **په ۲۰۲۵ز. کال کې د ټي‌ټي‌پي وسلوالو شاوخوا ۲۴۶ د ډرونونو بریدونه ثبت شوي دي.**[5]

ټي‌ټي‌پي په خپل کلني راپور کې ویلي چې په ۲۰۲۵ز. کال کې یې پر بېلابېلو بریدونو (چې ډرون بریدونه هم په کې شامل دي) د پاکستان سلګونه امنیتي سرتېري وژلي او ټپیان کړي دي خو پاکستاني پوځ بیا ویلی چې تر ډېره یې د ډرونونو بریدونه شنډ کړي دي.[6]

بلوڅ وسله‌والو (بلوچ لبرېشن آرمي BLA) په بلوچستان کې د خپلو جګړه‌ییزو عملیاتو په ترڅ کې لویې لارې وتړلې، مسافر پنجابیان یې تښتول او وژل، د اورګاډو پټلۍ یې الوځولې او پر امنیتي ځواکونو یې پیچلي بریدونه د یادولو دي.

د بلوڅانو د مخ پر زیاتیدو بریدونو له امله، امریکا متحده ایالاتو، BLA او (د بلوچستان د آزادۍ غوښتونکي پوځ د مجید فدایي برېګېډ) وسله‌واله ډله، د ۲۰۲۵ز. کال د اګست په ۱۲مه نېټه د نړیوالو تروریستي ډلو په لیست کې شامل کړل.

۲۰۲۵ز. کال، د تېر کال په پرتله ډېر د پاکستان لپاره ډېر خونړی کال ؤ چې په د دغه کال په نښتو کې **د تېرو کلونو په پرتله ۷۰ سلنه مرګ‌ژوبله زیاته شوه.**

پاکستاني چارواکي چې د خپل امنیت په ساتلو کې له آره پاتې راغلي وو، په پرلەپسې توګه یې تورونه پورې کول چې د ټي‌ټي‌پي او بلوڅ وسله‌والو بریدونه د افغانستان په خاوره کې تنظیمېږي چې د همدې بریدونو له امله د اسلام‌آباد او کابل ترمنځ سیاسي او ډیپلوماټیک اړیکي سختي خرابې کړې.

پاکستاني جنرالان د دې پر ځای چې له ډیورنډ کرښې ها خوا، د خپل واک لاندې سیمو کې د بریدکوونکو مخنیوی وکړي، ډیورنډ کرښې ته ځېرمه، د خوست ولایت د سپېرې ولسوالۍ اړوند سیمو او د ننګرهار په ځینو سیمو یې د بې‌پېلوټه الوتکو بریدونه وکړل چې **په خوست کې ۳ تنه ماشومان شهیدان شول او ۷ تنه ملکي وګړي ټپیان شول. همدا رنګه په ننګرهار کې هم ۶ تنه ملکي وګړي ژوبل شول.** (۲۰۲۵ز. کال، د اګست ۲۷مه او ۲۸مه نېټه.)

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت، په کابل کې د پاکستان سفیر د اعتراض په موخه راوغوښت. او دفاع وزارت بریدونه وغندل، ویې ویل:«د پاکستان له‌خوا د افغانستان پر هوایي حریم تېری به بې‌پایلې پاتې نه شي.»

---

[4]:https://capssindia.org/drones-as-a-force-multiplier-in-pakistani-taliban-operations/

[5] :https://southasianvoices.org/sec-m-pk-r-ttp-drone-threat-06-22-2026/

[6]:https://www.arabnews.pk/pakistan/pakistan-foiled-246-drone-attacks-in-northwestern-province-this-year-report-2642163

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر د ۹مې نېټې په لومړیو ساعتونو کې پاکستان پر کابل، خوست، ننګرهار او پکتیکا باندې بیا هوایي بریدونه وکړل، پاکستان دغو هوایي عملیاتو ته **(د خیبر توپان)** نوم ورکړی ؤ. چې موخه یې، (د دوی په وینا) په افغانستان کې د ټي‌ټي‌پي او د ټي‌ټي‌پي د مشر **(مفتي نور ولي مسید)** وژل وو. افغان دفاع وزارت بریدونه پاروونکي وبلل او د پایلو خبرداری یې ورکړ.
پاکستانیو الوتکو شپې مهال ۹:۵۰بجې د کابل د ۸مې ناحیې، د عبدالحق څلورلارې ته نږدې، پر یو موټر برید وکړ.[7] د پاکستان د استخباراتو د غلط راپور پر بنسټ، الوتکو د ټي‌ټي‌پي اړوند پر هغه موټر برید وکړ چې په هغه کې د ټي‌ټي‌پي مشر شتون نه درلود.
ځینو سرچینو وویل چې د ټي‌ټي‌پي مشر، مفتي نور ولي مسید، په دغه برید کې وژل شوی دی[8] خو وروسته د نوموړي ډلې لەخوا د مفتي نور ولي مسید په نوم یو غږیز پیغام خپور شو چې په دغه ثبت شوي پیغام کې، هغه ویلي وو چې ژوندی دی.[9]
د ټي‌ټي‌پي یوه چارواکي ومنله چې په کابل کې د پاکستان د هوایي برید له امله د دوی دوه تنه لوړپوړي کسان وژل شوي دي.[10]
نور ولي مسید د کابل له بریده ۷ ورځې وروسته، د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر په ۱۶نېټه، یوه ویډیو خپره کړه، هغه ویلي وو:**«زه ژوندی یم، زه په کابل کې نه، بلکې د خیبر پښتونخوا په خیبر سیمه کې یم، دا د پاکستان تبلیغات دي... او د پاکستان خلاف به زموږ جهاد جاري وي پر افغانستان د پاکستان د هوایی بمباریو غچ به اخلو.»**[11]
لکه څرنګه چې د افغانستان دفاع وزیر ګوتځنډنه کړي وه چې پاکستان به بېځوابه پاتې نه شي. د اکتوبر پر ۱۲-۱۱مه، شپې مهال، افغان ځواکونو د پاکستان د هوایي بریدونو په غبرګون کې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د پاکستان پر څو پوځي پوستو بریدونه پیل کړل.
په داسې حال کې چې پر ډیورنډ کرښه د پاکستان پر پوستو، د افغان سرتېرو غچاخیستونکو بریدونو دوام درلود، د اکتوبر په ۱۲مه، افغان سیمه‌ییزو سرچینو راپور ورکړ چې پاکستان د افغانستان په جنوبي ولایتونو، کندهار او هلمند، کې د بې‌پیلوټه الوتکو (ډرونونو) بریدونه کړي دي. د دغو راپورونو له مخې، په بریدونو کې د قوماندان حاجي نصرت په ګډون د طالبانو ۱۹ جنګیالي وژل شوي وو خو افغان چارواکو د دغو بریدونو له امله د رامنځته شوې مرګ‌ژوبلې پخلی ونه کړ.»[12]
له دغو بریدونو وروسته، د افغانستان دفاع وزارت د خپلو عملیاتو پای اعلان کړ خو ګوتځنډنه یې وکړه چې په راتلونکي کې د افغانستان پر هوایي حریم تیری وشي، پربکنده ځواب به ورکړي.
د کندهار سیمه‌ییزو سرچینو د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې لوړې شمېرې ورکړې. **د دغو سرچینو په وینا، ۲۹ کسان وژل شوي او ۱۲۲ نور ټپیان شوي وو**[13] **چې د ټپیانو په ډله کې نږدې ۸۰ تنه ښځې او ماشومان شامل وو.**[14]

---

[7] :https://timesofindia.indiatimes.com/world/pakistan/mysterious-explosions-heard-in-kabul-did-pakistan-carry-out-airstrike-heres-what-we-know/articleshow/124445121.cms
[8]: https://amu.tv/204448/
[9] :https://www.youtube.com/watch?v=dPSFODbm7D8
[10] :https://www.rferl.org/a/pakistan-taliban-ttp-afghanistan-strikes-drone/33556513.html
[11]:https://www.youtube.com/watch?v=O5aKDuhUfDw
[12] :https://kabulnow.com/2025/10/at-least-19-taliban-fighters-killed-in-pakistani-drone-strikes-in-southern-afghanistan/
[13] :https://kabulnow.com/2025/10/uns-richard-bennett-urges-civilian-protection-as-taliban-pakistan-border-clashes-continue/
[14] :https://www.aljazeera.com/news/15/10/2025/dozens-killed-injured-in-new-pakistan-afghanistan-border-clashes

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دواړو لورو وویل چې یو بل ته یې درنه مرګ‌ژوبله اړولې او څو پوستې یې نیولې او ویجاړې کړې دي.

د افغان حکومت په وینا، په دغو غچ‌اخیستونکو بریدونو کې د پاکستان ۵۸ پوځیان وژل شوي او ۹ تنه افغان سرتېري هم شهیدان شوي وو او ۲۵ پوستې یې لاندې کړې دي.[15]

بلې خوا پاکستاني پوځ ادعا وکړه چې تر ۲۰۰ تنو پورې افغان طالبان او ټي‌ټي‌پي وسله‌وال یې وژلي دي. د پاکستان پوځ دا هم وویل چې د پولې په اوږدو کې په ډزو کې ۲۳ پاکستاني عسکر هم وژل شوي او ۲۹ تنه نور ټپیان شوي دي.[16]

د کورمې په سیمه کې، پاکستانیو چارواکو وویل چې د افغان ځواکونو اته پوځي پوستې یې ویجاړې کړې چې شپږ ټانکونه هم په کې وو. هغوی همدارنګه ادعا وکړه چې په ځوابي بریدونو کې یې د افغان طالبانو او ټي‌ټي‌پي ډلې ۲۵ تر ۳۰ کسانو پورې وسله‌وال وژلي دي.[17]



پاکستاني پوځ او چارواکو د خپلو بریو د ادعاګانو د ثبوت په تړاو، د افغان ځواکونو په خبر مستندې ویډیوګانې خپرې نه کړې، پرته د یوې پوستې له نیولو او ځینو نورو کم ارزښته پرمختګونو څخه. **په یوه ویډیو کې پاکستاني پوځیان ښکاري چې د افغانستان یوه پوسته یې نیولې او ټول لکه مچ میږي پرې ورټول شوي، خوشاله دي، ته به وایي چې ډیلی یې فتح کړې دی.**



بلې خوا افغان سرتېرو د جګړې پر مهال چې د خپلو بریو ویډیوګانې یې اخیستې او پر خواله رسینو خپرې شوې وې، مورِ ولیدل چې افغان ځواکونو پر ډیورنډ کرښه د پاکستان پوځي پوستې، پوځي مهمات او زغره‌وال وسایط چې یوه روسۍ T.62شوبله (ټانک[18]) هم په کې وو غنیمت کړي وو. سربېره پر ټپیانو، یو شمېر پوځیان یې ژوندي هم نیولي وو. چې د درو تنو نیول شویو پاکستاني پوځیانو ویډیوګانې چې د اکتوبر د ۱۲مې نېټې په جګړو

---

[15] :https://www.theguardian.com/world/2025/oct/11/heavy-clashes-erupt-along-pakistan-afghanistan-border

[16]:هماغه سرچینه.

[17] :https://www.afintl.com/fa/ 202510158116

[18]: ځینې ځپرونکي وایي چې دغه (ټي-۶۲ یا ټي- ۵۵) روسی شوبله (ټانک) د طالبانو پر ځواکونو پورې تړاو لري، ځکه چې پاکستانی پوځ دا ډول روسی شوبلې نه لري، بلکې (ټي-۸۰ یو ډي= T-80UD) ډوله روسی (اوکراینی) شوبلې لري چې په ۱۹۹۶ز. کال کې یې له اوکرایین ځخه پیرودلي وو.

خو زما دلیل دا دی:

۱ــ د عراق په لومړی جګړه: ۱۹۹۱ز. کال کې چې کله د امریکا پر مشرۍ د ایتلاف ځواکونو له عراقي پوځ څخه ټي- ۵۵ او ټي- ۶۲ شوبلې ونیولې نو یو شمېر یې د امریکا او سعودي عربستان د پرېکړې له امله، دغه ټانکونه او نورې وسلې مخامخ د سمندر له لارې د پاکستان کراچۍ بندر ته ورسول شوې او هلته د پاکستان پوځ او استخباراتو د دغو وسلو کنټرول او د وېش چاره په لاس کې واخیسته او بیا یې په پېښور کې مېشتو افغان تنظیمونو ته وسپارلې.

لکه چې ټول پوهیږو، پاکستان د افغان کډوالو له هر ډول نړیوالو مرستو څخه یو څه برخه د ځان لپاره غلا کړي ساتلې ده، شوني ده چې له دغو شوبلو یې هم د ځان لپاره ساتلې وي.

۲ــ هغه مهال چې د ډاکټر نجیب الله حکومت سقوط وکړ او واک د پاکستان په لاس جوړ شویو تنظیمونو لاس ته ورغی نو تر ټولو لومړی یې د افغان پوځ د پاشلو، پاکستانی پلان عملي کړ او بیا یې د پوځ وسلې او مهمات : سکاټ توغندي، جګړه‌ییزې الوتکې او چورلکې، هر ډول شوبلې (چې ټي- ۶۲ روسی شوبلې هم په کې وې) د رباني او نواز شریف د یو ټرون له مخې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کې ژوندي نیول شوي وو، په خواله رسینو کې ښکته پورته کیدلي، دوی په ویډیو کې تر سخت اغېز لاندې راغلي وو. (دغه درې واړه پوځیان د ۲۰۲۶ز. کال په فبروري کې د سعودي عربستان په منځګړیتوب خوشي کړای شول.) لاندې لېنک کې پاکستاني اسیرانو حالت وګورئ:

https://www.bbc.com/pashto/articles/ce8nvg9j7e8o

همدا رنګه په یوه بله مشهوره ویډیو کې چې د سپین بولدک په سیمه کې ثبت شوې وه، افغان ځواکونو د پاکستاني پوځ یوه شوبله (ټانک) او څو زغرهوال وسایط غنیمت کړي او د کندهار پر لور د خوځښت په حال کې لیدل کیږي او خلک یې نندارە کوي.

دا لومړی ځل نه دی چې پاکستانی پوځ له افغان سرتېرو سره په جګړو کې خپل زغرهوال وسایط پرېږدي او په خپله د جګړې له ډګره پښې سپکوي، په ۲۰۱۷ز. کال کې هم د سپین بولدک په سیمه کې پاکستاني پوځ یو زغرهوال ګاډی پرېښی او په خپله تښتیدلي وو. د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ په افغان جرمن آنلاین پورتال کې، د دې قلم لیکنه:(پاکستانی پوځ ولې په مخامخ جګړو کې ناکام دی؟)

د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر میاشتې د سختو ځمکنیو او هوایي نښتو وروسته، د اکتوبر په ۱۵مه نېټه، مازدیګر مهال په ۵:۳۰ بجو، د پاکستان او افغان حکومت ترمنځ د لومړي ځل لپاره لنډمهالی اوربند، د ترکیې او قطر هېوادنو په منځګړیتوب رامنځ ته شو. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په خپله رسمي اعلامیه کې ادعا وکړه چې دغه ۴۸ ساعته لنډمهالی اوربند د افغان طالبانو په غوښتنه شوی دی. په غبرګون کې د افغان حکومت ویاند، ذبیح‌الله مجاهد، سمدلاسه دا ادعا رد کړه ویې ویل چې اوربند د پاکستان په ټینګار او غوښتنه شوی دی.

د دغه دوه ورځنې اوربند له پای ته رسېدو وروسته چې د اوږدمهالي یا تل پاتې اوربند په اړه خبرې روانې وې، د اکتوبر په ۱۷مه، ماسخوتن مهال شاوخوا ۸ بجې، پاکستانیو الوتکو د پکتیکا په ولایت کې درې ځایه بمبار کړل.[19]

افغان چارواکو، پاکستان د اوربند په ماتولو تورن کړ او په دوحه کې یې د کړکېچ د خبرو اترو په ترڅ کې د بریدونو موضوع راپوته کړه او سخته نیوکه یې وکړه. د چارواکو په وینا، پاکستانیو بمغوځوونکو الوتکو د پکتیکا ولایت د ارګون ولسوالۍ او دوو نورو سیمو باندې بریدونه وکړل. چې **په یو کور کې ۱۰ تنه ملکیان شهیدان شول. په وژل شویو کې د سیمې د کرکټ درې تنه لوبغاړي، ښځې او ماشومان شامل وو.**[20]

پاکستان ته ورکړل شوي. دغه ټرون د ۱۹۹۲ز. کال د جولای په ۷مه نېټه لاسلیک شوی ؤ. (ولولئ: د میرعبدالرحیم عزیز کتاب: مسعود کی بود؟)

۳ـ بله دا چې پاکستان په ۲۰۱۵ـ ۲۰۱۶ز. کلونو کې له صربیا هېواد څخه د خپلو سرحدي ځواکونو (Frontier Corps) لپاره ۲۸۲چینه، T-55 شوبلي وپېرودلي. د دغو مالومات په اړه په لاندې باوري سرچینو کې ولولئ:

https://defence-blog.com/serbia-sold-282-modernized-t-55-tanks-to-pakistan/

https://defensemirror.com/news/13302/Serbia_To_Sell_282_Modernized_T_55_Tanks_To_Pakistan

https://en.wikipedia.org/wiki/T-54/T-55_operators_and_variants

https://en.topwar.ru/169920-serbija-postavila-pakistanu-partiju-modernizirovannyh-tankov-t-55.html

د پورته مالوماتو پر بنسټ ویلی شو چې پاکستانی پوځ تي- ۵۵ او تي-۶۲ روسی شوبلي هم لري او هغه شوبله چې افغان سرتېرو د سپین بولدک په جګړه کې غنیمت کړي وه، د پاکستان پر سرحدي ځواک پورې یې تړاو درلود.

[19] :https://www.washingtonpost.com/world/2025/10/18/afghanistan-pakistan-cricket-border-fighting/eb29224a-abef-11f0-a2bc-82cf6840599d_story.html

[20] :https://amu.tv/205873/

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کرکټ نړیوالې شورا (ICC) د دریو افغان کرکټ لوبغاړو پر مړینه خواشینې څرګنده کړه، تاوتریخوالی یې وغانده او د افغانستان د کرکټ بورډ (ACB) سره یې خپل پیوستون اعلان کړ. د افغانستان د کرکټ بورډ اعلان وکړ چې د قربانیانو د درناوي په موخه به د ۲۰۲۵ز. کال د پاکستان د شلاوریزو نړیوالو سیالیو له دریاړخیزې لړۍ څخه ووځي. ټاکل شوې وه چې دا سیالۍ د نومبر په میاشت کې ترسره شي.[21] پاکستاني چارواکي چې ټول عمر یې په چلول او د نور په ټپرایستلو کې تېر کړی دی، په پکتیکا کې ملکي وګړو له وژلو یې انکار وکړ ویې وویل چې بریدونه یې د ټي‌ټي‌پي اړوند د حافظ ګل بهادر ډلې پر وسلهوالو کړي دي.[22]



(غنیمت شوي زغرهوال وسایط)

ـ په دې لینکونو کې د پاکستان هغه زغروال وسایط او اسیر شوي پوځیان لیدلی شئ چې د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر په جګړه کې د افغان سرتېرو لهخوا نیول شوي وو.

https://www.youtube.com/watch?v=MWHvRazllbc

https://www.youtube.com/watch?v=zr1NM0Y4F_4

ـ د اینډیا ټریبیون په لاندې لینک کې کولی شئ د نیول شویو پاکستانیو زغرهوالو ګاډو او نیول شوي یوې پوستې ویډیوګاني وګورئ:

https://www.tribuneindia.com/news/pakistan/viral-videos-how-afghan-fighters-effortlessly-capture-pakistani-army-post-tanks-amid-border-clashes/?utm_source=chatgpt.com

نېټه: ۷/۸/۱۴۰۵

نور بیا

د ښاغلي محمد انور اڅړ نورې لیکنې په دې لینک کې ولولئ.

[21] :https://www.bbc.co.uk/news/articles/c20pnz01x0eo

[22] :https://www.washingtonpost.com/world/2025/10/18/afghanistan-pakistan-cricket-border-fighting/eb29224a-abef-11f0-a2bc-82cf6840599d_story.html

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ